مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۸/۱۹

# طبيعي پېښې او افغانان

طبيعي پېښې د نړۍ په هرځای کې پېښيږي، خو ولې افغانستان او افغانان ترنورو ډېر زيانمنوي؟ ايا موږ له طبيعي پېښو سره د مخامختيا په لار و چار نه‌پوهيږو؟ که په افغانستان کې د ځانګړيو جغرافيايي شرايطو له امله دا پېښې دومره ويجاړوونکې او خونړۍ دي؟ طبيعي پېښې څه دي؟ او ايا د هغو د زيانونو راکمول شوني دي؟

کيسه ده، چې د کوم ولايت له منځه لوی سيند تېرېده، يووخت چې سيلاو د خلکو کورونه و شتمنۍ وړې وې، نو خلک د وخت والي ته ورغلل چې سيلاو هرڅه راتباه کړل. والي ترې وپوښتل: ايا تاسو له سيند څخه د شکايت لپاره راغلي ياست؟ مګر همدا څو ورځې وړاندې سيند ستاسو له لاسه زما دفتر ته په شکايت راغلی و. زيانمنو خلکو يو بل ته وکتل چې والي په څه پرتو لګيا دی؟ خو والي وړاندې وويل: سيند شکايت کاوه، چې خلکو زما د بهېدو په بستر کې کورونه، سرايونه او دوکانونه جوړ کړي، زه نه‌پوهېږم کومه خوا ولاړ شم؟

دا کيسه له طبيعت سره د انسانانو د مخامخ‌کېدو تدبير راپه يادوي، چې ښايي پام ورته وشي. طبيعي پېښې هرځای پېښيږي؛ زلزلې، سيلاوونه، توپانونه، وچکالۍ، زمکښوييدنې، اورغورځونې، ځنګل‌سوزېدنه، آفتونه، ناروغۍ او ان د وژونکيو ځناورو او خځندو زياتېدل يې بېلګې دي. خو په ساينس او پوهه سمبال ملتونه له دې ټولو کم زيان ويني. ايا دوی د داسې پېښو مخنيوی کړی دی؟ نه. ځينې طبيعي پېښې نه د مخنيوي وړ دي او نه هم د دقيقې وړاندوينې. نو کيسه څه ده؟ اصلي کيسه له طبيعت سره د انسانانو د مخامختيا ده. په پوهه سينګار ملتونه اول طبيعت پېژني. د طبيعت امکانات او آفتونه څېړي. دې پوښتنو ته ځوابونه پلټي چې طبيعي پېښې ولې او څنګه پېښيږي؟ ايا داسې لارې چارې شته چې له دې پېښو څخه خلکو او هېواد ته هېڅ يا کم زيان ورسيږي؟ د سيلاوونو د کمولو يا يې له زيانه د ځان ساتلو لپاره بويه چې له سيندونو او خوړونو سره ملګرتيا وپالو، لار ورکړو او تر مخې يې ونه‌دريږو. ځنګلونه د خدای شنه نعمتونه دي، وهل يې طبيعي ناوړه پېښې زياتوي. چېرته هستوګنه وکړو؟ کوم ځای سمسور وساتو؟ د اوبو د راوتلو لارې څنګه وپېژنو؟ اوربښتونه څنګه زمکې ته جذب کړو؟ او داسې نورې پوښتنې چې ساينس او پوهنه يې ځواب ويلای شي، ټولنيز علوم يې د مديريت لارې چارې راښيي او ادارې يې عملي کوي. اوس نو زموږ افغانانو کار کوم ځای کې ګوډ دی؟ ولې په سيلاوونو کې تر نورو زيات مرو او هرڅه رانه وړي؟ ولې تږي او بې‌ابه يو؟ ولې مو ځنګلونه بايلل؟ او ولې له طبيعت سره د مخامختيا په راز نه‌پوهيږو؟

له طبيعي پېښو سره د مبارزې هڅه يوازې دا نه ده، چې د زلزلو او سيلاوونو پرمهال خلکو ته مرسته ورسول شي، دا د کار يوه خورا کوشنۍ برخه ده، اصلي کيسه دا ده، چې د ځينو پېښو د کېدو مخنيوی وشي او د ځينو نورو په وړاندې داسې اقدامات وشي، چې زيان يې حد اقل ته راکم شي. کارپوهان سپارښتنه کوي، چې د ځنګلونو د وهلو مخه بايد په جديت ونيول شي، ځکه ځنګلونو د ونو د پاڼو، څانګو او تنو په وسيله نه يوازې چې يوه برخه اوبه جذبوي، بلکې د اوربښتونو د اوبو شدت راکموي او په غرونو کې د اوبو د جذبېدو امکان زياتوي. دويمه سپارښتنه دا ده چې د هېواد ټول وچ او بهاند خوړونه بايد وپېژندل شي، د اوبو د راوتلو بهيرونه بايد سروې او خوندي شي، د خوړونو، سيندونو او ان کوشنيو بهانده ويالو بسترونه بايد په ودانيو ډک نه‌شي. د بارانونو د اوبو د جذب امکانات زيات شي او د پېښو پر مهال له ګواښونو سره د خلکو د مخامختيا په اړه عامه پوهاوی زيات شي.

په افغانستان کې بايد يو پوهنتون يا لږ ترلږه په يوه پوهنتون کې يو پوهنځی د چاپېريال ساتنې، له طبيعي پېښو سره د مخامختيا او د اوبو او ځنګلونو د مديريت لپاره ځانګړی شي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ